د افغانستان اسلامي جمهوریت

د ستندرډ ملي اداره

# دستندرډ ملي اداري

# د ۱۳۹۸ مالي کال د لاسته راوړنو او کړنو راپور

کال - ۱۳۹۸

# سریزه

د نورم او ستندرډ بحث د افغانستان په اقتصادي او اداري سیستم کې له څو لسیزو راهیسې موجود دی، مګر له بده مرغه هیڅ داسې منسجم او متداوم فعالیت نه و ترسره شوی چې د افغانستان سوداګریزو او اقتصادي اړتیاو ته ځواب ویونکی وي. د ستندرډ ملي ادارې ایجاد په حقیقت کې په هېواد کې د ستندرډ جوړونې د منظم سیستم لپاره یو اساس ګڼل کیږي.

که څه هم د ستندرډ ملي ادارې (انسا) خپل کار له صفر او یو شمیر ګواښونو سره سره پیل کړ، مګر له نیکه مرغه په لږ وخت کې یې وکولای شول چې د هېواد په اقتصادي سکټور کې خپل موقف تثبیت کړي او لاسته راوړنې ولري چې د ستندرډ جوړونې تخنیکي ماهیت او د مشابه هېوادونو تجربو ته په پام ډېر د توجه وړ دي.

د ستندرډ ملي اداره د (۱۳۸۶) کال په زمري میاشت کې د افغانستان اسلامي جمهوریت د وزیرانو شورى له لوري د یوې خپلواکې ادارې په توګه تصویب او د همدې کال په کب میاشت کې د پارلمان له لوري هم تایید شوه چې د ادارې عملي فعالیت د (۱۳۸۷) کال په لومړیو کې پیل شو.

د ستندرډ ملي اداره (انسا) په هېواد کې د ملي بنسټ، کیفیت او په هغو کې د شاملو سیستمونو (ستندرډ جوړونه، میټرولوژي، مطابقت ارزونه، د پلټنې منجمل، لابراتواري ازمیښتونه او د تصدیق پاڼو صادرول) له تطبیقي سیستم سره په همغږۍ یواځینۍ صلاحیت لرونکې سرچینه ده.

د ستندرډ ملي اداره هڅه کوي چې د ملي او نړیوالو دخیلو بنسټونو په همکارۍ په هېواد کې د ستندرډ جوړونې او د ستندرډونو پر تطبیق د نظارت کوونکې سرچینې په توګه په غوره چټکیا سره د ژوند د کیفیت لوړوالي او له مستهلیکنو او تولیدوونکو څخه د ملاتړ لپاره بنسټیز پروګرامونه لکه؛ د ستندرډونو برابرول، د مطابقت ارزونې خدمتونه (څېړنه، لابراتواري ازمیښتونه او تصدیق پاڼې) او د میټرولوژۍ خدمتونه (وزن او کچه) په خپل عمل پلان کې شامل کړي دي، څو له همدې لارې په سوداګرۍ کې اسانتیا را منځ ته کړي او اقتصاد ته پیاوړتیا ورکړي چې په پایله کې به په روغتیا، خوندیتوب، د چاپېریال ساتنې په ښه والي او د افغانستان د خلکو په هوساینه تمام شي.

د ستندرډ ملي اداره پوهیږي چې له دې ادارې څخه د کیفیت د تامینولو او له مصرف کوونکي څخه د ساتنې لپاره د خلکو، حکومت او خصوصي سکټور تمه ډېره لوړه او په ځای ده. مونږ له شکه پرته سیمییزو او نړیوالو مارکیټونو ته د لاس رسي په موخه د نوي تولیدي سکټور د پرمختګ لپاره د ستندرډ خدمتونو، او د باوري تصدیق پاڼو وېش، د خلکو د روغتیا ساتنې، د چاپېریال خوندیتوب او بلاخره د خپلو اقتصادي او ټولنیزو ګټو د خوندیتوب لپاره ستندرډ ته اړتیا لرو. مګر له دغه لوړ او ژور مسیر څخه تېرېدل کافي وخت، متخصصو بشري سرچینو او عصري ټکنالوژۍ ته اړتیا ده.

## لیدلوری

د سټنډرډ جوړونې لویه سرچینه د مطابقت ارزونې خدمتونو (ځېړنه، لابراتواري ازمېښت او تصدیق نامه) او د مټرولوژۍ مهارتونه دي، څو په سوداګرۍ کې اسانتیا راولي او اقتصادي پرمختګ غښتلی کړي چې په پای کې د افغانستان د خلکو د روغتیا، خوندیتوب او هوساینې سبب ګرځي او په چاپېریال ساتنه کې برخه اخلي.

## ماموریت

د سټنډرډ ملي اداره د قوانینو او پالیسو په طرحه کولو، د سټنډرډونو تدوین او ترویج، د مطابقت ارزونې د خدمتونو وړاندې کول، د ملي مټرولوژۍ سېسټم، د لابراتوارونو د ملي شبکې ایجاد او په هېواد کې یې په زده کړې او ځېړنې سره د کیفیت ملي بنسټ غښتلی کړی دی. همدارنګه یې کورنیو او بهرنیو بازارونو ته د افغاني محصولاتو او خدمتونو لاس رسی اسانه کړی دی. د انسا (regulatory) تطبیقي دندې به د خوندیتوب او سالمې سیالۍ تضمین کوونکې وي.

## د سټنډرډ ملي ادارې موخې

د سټنډرډ ملي ادارې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په اساسي تشکیلاتو کې د یوې خپلواکې ادارې په توګه د دوه موخو د لاسته راوړلو لپاره فعالیت کوي.

- د کیفیت د ملي بنسټ ایجاد او پراختیا.
- د سوداګریزو توکو (واردات او صادرات)، تولیدي محصولاتو او خدماتي پروسو ښه والی.
- سیمییزو او نړیوالو بازارونو ته د افغاني محصولاتو د وړاندې کولو د غوراوي په موخه د کیفي تصدیق پاڼو د وړاندې کولو د باوري سېسټم پېژندل.
- له مالي او اقتصادي سرچینو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې په موخه د مصرفي نورمونو تثبیت.
- د چاپېریال او مصرف کوونکو د روغتیا او خوندیتوب تامینول.
- د سټنډرډونو په اړه څېړنه او د سټنډرډ جوړونې، مټرولوژۍ او مطابقت ارزونې په پروسو کې برخې اخیستنې ته د خصوصي سکټور هڅول.

# د سټنډرډ ملي اداري تولیزي لاسته راوړني

د سټنډرډ ملي اداري (انسا) د ټولنې د عیني اړتیاو سره سم پر داخلي ظرفیت جوړونې او د سیسټمونو د را منځ ته کولو پر تاکید کار پیل کړی دی چې د (۱۳۹۸) مالي کال په اوږدو کې یې زیاتې لاسته راوړنې لرلې دي چې له هغو جملې څخه یې د یو شمېر یادونه کوو.

- ❖ د طرزالعملونو مطابق د ساختماني موادو د کیفیت او د هېواد د عوایدو لوړولو په موخه د ساختماني موادو د وارداتو د طرزالعمل د مسودې ترتیب او د سټنډرډ عالي شورى له لوري د هغو منظوري.
- ❖ په هېواد کې د افغاني قالینو د صادراتو د معیاري کولو او د بې کیفیته قالینو او خامو موادو د واردولو د مخنیوي لپاره د قالینو د لومړني لابراتوار ایجاد او پرانیستل او همدارنګه په هېواد کې د توریدي ساختماني موادو د کیفیت د کنټرولو او ازمېښت په موخه په ننګرهار کې د ساختماني موادو د لابراتوار فعالول.
- ❖ تولیزو موخو ته د رسېدلو په موخه د سټنډرډ ملي اداري پنځه کلن (۱۳۹۸- ۱۴۰۲) سټراتیژیک پلان تدوین چې د دې سټراتیژیک پلان پلي کول د اقتصاد د غوړېدلو، د کورنیو محصولاتو د ښه والي، په سیمییزه او نړیواله کچه کیفیت لرونکو او سټنډرډ توکو ته د مصرف کوونکو د لاس رسي او د افغانستان د صادراتو د زیاتوالي سبب ګرځي.
- ❖ د افغانستان د زعفرانو له کاروباریانو سره د زعفرانو د تړون لاسلیک کول.
- ❖ د (۱۳۹۸) مالي کال د کاري پلان له مخې په مرکز او ولایتونو کې پر بېلا بېلو وسایطو او ماشینونو لکه؛ (۲۰۰) ډوله وسایط، (۸۰) ډوله ماشینونه، (۲۵) ډوله ګازي بخارۍ، (۲۰) ډوله ګازي منقلونه، (۵۰) ډوله جنراټورونه او د دولتي ادارو پر (۲۰) ډوله بېلا بېلو مرکز ګرمیو (۳۹۵) ډوله عملي ازمېښتونه ترسره، تثبیت او نورم شوي دي.
- ❖ د (۱۳۹۸) کال په اوږدو کې د تخنیکي کمېټې په وسیله په بېلا بېلو سکټورونو کې (۴۰) سټنډرډونه لکه ( د خوراکي توکو ۲ سټنډرډونه، د ساختماني او ودانیزو توکو ۴ سټنډرډونه، د چاپېریال ساتنې ۲ سټنډرډونه، د الکتروتخنیک او مخابراتو ۱۸ سټنډرډونه، د روغتیا او طبي ماشینونو ۲ سټنډرډونه او د درملو او سینګار توکو ۳ سټنډرډونه) نهایي شوي دي چې په ټوله کې په یادو سکټورونو کې (۶۵۶) سټنډرډونه تدوین او د سټنډرډ عالي شورى له لوري منظور شوي دي.
- ❖ په سټنډرډ ملي اداره کې د ساختماني موادو او مټرولوژۍ لابراتوارونو پرانیستل.
- ❖ په ننګرهار ولایت کې د ساختماني موادو د لابراتوار پرانیستل او د زون په مرکزونو کې له هغو څخه کار اخیستل.
- ❖ په ولایتونو کې د زده کړیزو او ترویجي پروګرامونو پیلول.

## د راپور لنډیز

د سټنډرډ ملي اداري 1396 مالي کال لپاره ۳۹ کړنې په پلان کې نیولي دي چې د هغې له جملې څخه ۲۴ کړنې بشپړ کړي دي، ۸ کړنې د اجرا په حالت کې دی، ۱ کړنه یې تم ده او۶ نورې کړنې یې د ستونزو له کبله نه دي پیل شوې.

د ادارې د ټولو کړنو د پرمختیا منځنی سلنه ( ۳۳،۷۲٪ ) ته رسېدلې ده.

| د پلان شوو کړنو ټولګه | بشپړې شوې کړنې | د اجرا په حال کې کړنې | تم شوې کړنې | نا پیل شوې کړنې |
|---|---|---|---|---|
| ۳۹ | ۲۴ | ۸ | ۱ | ۶ |

## د پلان شوو کړنو د څېړنې راپور

لاندینی جدول د لویو کړنو د پرمختیا اندازه را ښایي.

| اصلي موخه | په کال کې د موخې اندازه ( Target ) | د لویو کړنو سر نوم | د پلان مطابق د پرمختیا سلنه |
|---|---|---|---|
| **سټنډرډ جوړونه (دستندرونو جوړول ، رواجول ، او پلی کول)** | ۴۰ ملي سټنډرډونو جوړول | د تخنيکي کمیټو لخوا د ملي سټنډرډونو جوړول او د سټنډرډ په عالي شورا کې تصویبول | ٪ ۱۰۰ |
| | د معادن یوه تخنیکې کمیټه جوړول | د معادن تخنیکي کمیټې جوړول | ٪ ۱۰۰ |
| | ۱ مستند فلم | د اداري د کړنو او د ملي سټنډرډونو د رواجولو په اړه د یو مستند فلم جوړول | ٪ ۱۰۰ |
| | ۳۹۵ عملي آزمایښتونه | په ۲۰۰ عراده وسایطو، (۸۰) ماشینې وسایلو،۲۵ دانې ګازي بخاریو (۲۰) دانې ګازي نغریو ، (۵۰) دانې جنراتورو ، (۲۰ ) مرکز ګرمیو باندې عملي ازموینو( تجربو ) سرته رسول او د ګمارل شوې کمیټې له خوا د نورم تاییدول | ٪ ۱۰۰ |
| | ۱ پالیسی | د ملي سټنډرډ جوړونې د پالیسی جوړول او د سټنډرډ عالي شورا له خوا د هغې تاییدول | ٪ ۰ |
| **له بازار څخه پلټنه اوپاملرنه، د لابراتوار ازموینه او د وړتیا سند (تصدیقنامه کیفی) صادرول** | 1 طرزالعمل | د ورداتي ساختماني توکو طرزالعمل | ٪۱۰۰ |
| | (۳) لابراتوارونه | د نفتی، ساختماني او برق توکو د لابراتوارونو عیارول | ۵۰٪ |
| | ۱ کړنه | د ساختمانې توکو د لابراتورونو د کړنو پیل | ٪۳۰ |
| | د یوې څانګې کړنه ( د وړتیا سند تصدیقولو ) | د وړتیا سند تصدیقولو د څانګې د کړنې پیل. | ٪ ۲۰ |
| | لابراتوار | د غالیو د توکو د ازمایښتي لابراتوار لپاره د تجهیزاتو رانیول | ٪ ۱۰۰ |
| **مترولوژۍ** | ۱ قانون | د عدلیې په وزارت کې د مترولوژۍ د قانون په اړه بحث وروستي کول او د هغه پای ته رسول، د هغه قانون توشیح او په رسمي جریده کې خپرول | ٪ ۸۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | ١ لابراتوار | د کتلې، اوږدوالي او حجم په برخه کې د مترولوژۍ لابراتوارونو د کار پیل. | ٪۰ |
| د مراجعه کوونکو د رضایت تر لاسه کول | 1 فزیکی دفتر | د مراجعه کوونکو لپاره د معلوماتو ورکولو په موخه د کاري میتودونو ښه کول | ٪۱۰۰ |
| | ١ و یو سیستم جوړول | د مراجعینو د ثبت سیستم جوړول | ٪۱۰۰ |
| | ٥ نصب شوې تابلوګانې | د مراجعینو د چارو د اسانۍ لپاره د تابلوګانو لګول (Process maps) | ٪۱۰۰ |
| | د یو اخلاقي منشور جوړول | د هېواد د نافذه قوانینو په رڼا کې د کارمندانو او مراجعینو تر منځ د متقابلو دندو په اړه په وزارتونو او دولتي ادارو کې د حقوقو اخلاقي منشور جوړول | ٪۱۰۰ |
| | د لګول شوو تابلو ګانو منشور | په ټولو دفترونو کې د مراجعینو او کارمندانو تر منځ د متقابل چلند رامنځته کولو لپاره د اخلاقي حقوقو د منشور لګول. | ٪۰ |
| | ٢ جوړ شوي سیستمونه | شکایاتو ته د لاس رسی لپاره د انلاین سیستم ته پرمختګ ورکول | ٪۱۰۰ |
| | | شکایاتو ته د لاسرسۍ لپاره ټلیفوني سیستم ته پرمختګ ورکول | ٪۱۰۰ |
| د مېرمنو لپاره د یوې مناسبې کاري فضا برابرول | ١ بشپړ شوې سروې | د وزارتونو او ادارو د واحد جنډر په وسیله په کاري ساحه کې د ښځو د ستونزو په اړه د (base line) سروې | ٪۱۰۰ |
| | ١ پرمختګ ورکړشوي خاص پلان | د ترسره شوې سروې له مخې د یو خاص عملي پلان جوړول | ٪۰ |
| د اداري د معلوماتو همغږي کول او د یو واحد سیستم رامینځته کول | ١ اصلی سیستم او ٤ فرعي سیستمونه | د بشري سرچینو معلوماتي سیستم HR MIS) ته پراختیا ورکول | ٪۱۰۰ |
| | | د الکترونیکي حاضرۍ سیستم ته پراختیا ورکول | ٪100 |
| | | .د اداري لیکنو لپاره د الکترونیکي سیستم انکشاف | ٪۰ |
| | | د اداري کړنو په اړه د احصایې او معلوماتو سیستم ته انکشاف ورکول | ٪100 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | د ټولو معلوماتو په اړه د اصلي سیستم جوړول | ٪ ۰ |
| له سیمییزو او نړیوالو سازمانونو سره د اړیکو پراختیا | 1 هوکړه لیک | د متحده عربي اماراتو د سټنډرډ او مترولوژۍ اداري سره د همکارۍ هوکړې لاسلیک . | ٪۹۰ |
| | ٤ جلسه | د سیمه ایزو او نړیوالو سازمانونو په کلنۍ لویوغونډو کې د اداري د پلاوي ګډون. – ISO SAARC SARSO & SMIIC | ٪ ۱۰۰ |
| | ۱۲ سټنډرډ | د ملي سټنډرډونو د بډایه کولو په موخه او د تخنیکي کمیټو د اړتیا مطابق د (۱۲) سټنډرډونو پېرودل | ٪ ۱۰۰ |
| | ۳ سازمان | د تخنیکي همکارۍ د غوښتنو او د اړیکو ټینګښت چې له(3) سازمانونو سره د د سټنډرډ ملي اداري ترون لاسلیک کړی دی: (ازبکستان ، هند او ترکیه) | ٪ ۱۰۰ |
| | ۲ د غړیتوب فیس | نړیوال سازمان (ISO) او سیمییز سازمان (SMIIC) ته د غړیتوب فیس ورکول | ٪ 10 |
| د بودجې جوړښت | ۱ بودجه | د 1399 مالي کال لپاره د بودجې د مسودې جوړول او د هغې منظوري | ٪ ۱۰۰ |
| د بشرې سرچینو مدیریت | ۱۹ برنامه | د کارمندانو د ظرفیت لوړولو په موخه د (سټنډرډ جوړونې، د کیفیت تضمین معیاري کول، د لګښتي نورمونو تثبیت، ستراتیژي، پالیسي، رهبري، پلان جوړونې او نورو برخو کې د زده کړیزو پروګرامونو جوړول MIS . | ٪ ۴۷،۳۶ |
| | (۱)برنامه | ۱۳۹۹ د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره د اداری تشکیلاتي جوړښت جوړول | ٪۱۰۰ |
| | (۲۰)تنه | د اداري تایید شوي ۱۳۹۸ تشکیل نه بیرون (۲۰) تنه د NTA په معاش ګمارل. | ٪ ۳۵ |
| | ۵۰ بستونه | د اداري اصـــلاحاتو او ملکي خدماتو کمیســـیون ســـره په مرســـته ، د وړتیا پراســـاس د ښـــځینه کارمندانو په شمول د آزادو سیالیو له لارې (۵۰) تشـو بسـتونو دګمارنې پروسـې د پراونو تر سـره کول. | ٪ ٥٦ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د پلان جوړونې سیستم پیاوړی کول | دستراتیژیک پلان سند | د اداري ستراتیژیک پلان جوړونه. | ٪ ۱۰۰ |
| | ۱ برنامه | د پلان جوړونې د څانګې د وړتیا د لوړولو په موخه یوې برنامې تر سره کول | ٪ ۱۰۰ |
| | ۱ ساختار | انکشاف ساختار پاسخگو برای بخش پلان گذاری<br>د پلان جوړونې څانګې لپاره ځواب ویونکې جوړښت ( ساختار) رامینځته کول | ٪ ۱۰۰ |
| **ټول** | | **د ټولو کړنو شمیر (۳۹)** | **د ټول پرمختک اوسط سلنه کړنې ۷۲،۳۳٪** |

## د بشپړ سوو فعالیتونو طبقه بندي او د هغو پایلې

| ګڼه | د (عرصه) فعالیتونو طبقه بندي | بشپړ شوی فعالیتونه | پایلې |
|---|---|---|---|
| ۱ | **د ملي سټنډرډونو تدوین، ترویج او تطبیق** | د 1398 مالي کال په لړ کې (40) سټنډرډونه (د خوړو 2 سټنډرډونه، ۴ سټنډرډونه د ساختماني او تعمیراتی توکو د تخنیکي کمیټې لپاره، 2 سټنډرډونه د چاپیریال، 3 سټنډرډونه د کیمیا پلاستیک، 2 سټنډرډونه د نساجي او چرم، 2 سټنډرډونه د کیفت مدیریت، 2 سټنډرډونه د پټرولیم، 18 سټنډرډونه د بریښنا او مخابراتي، 2 سټنډرډونه د روغتیا او طبي ماشینونو لپاره ، 3 سټنډرډونه د درملو او کاسمیټکس د تخنیکي کمیټې په اړه). دا تخنیکي کمیټو له خوا جوړ او د سټنډرډ عالي شورا لخوا تصویب شوي دي. | د ملي سټنډرډونو جوړول ، رواجول ، پلي کول او څارنه د وارداتی او صاداراتی توکو د کیفیت د ښه کولو باعث شـوي دي او د مسـتهلکینو په روغتیا کې کلیدي رول لوبوي. |
| 2 | | (۱) مستند فلم:<br>د سټنډرډ ملي اداري د کړنو او د ملي سټنډرډونو د رواجولو په اړه د اداري د | دا فلم د عامه پوهاوي په موخه د سـټنډرډ ملي اداري د کړنو او د هېواد د اوسیدونکو مصرف کونکو توکو د مصونیت تضمین کولو لپاره |

| ګڼه | د (عرصه) فعالیتونو طبقه بندی | بشپړ شوی فعالیتونه | پایلې |
|---|---|---|---|
| | | تخنیکي ځانګو په مرسته یو دريې ( ۳ ) دقیقه يي مستند فلم جوړ کړای شوی دی. | چمتو شوی دی تر څو وکولای شي د هیوادوالو د پو هاوي په لوړولو کې مرسته وکړي. |
| 3 | | د کان کیندنې(معادن) تخنیکي کمیټې ایجادول | د کان کیندنې ( معادن) د اړتیاو پوره کولو لپاره کمیټه جوړه شوي ترڅو اړونده ځانګې او سکتورونه سره شریک د کان کیندنې( معادن) لپاره اړين سټنډړډونه جوړ کړي. |
| 4 | | (395) دوله عملی آزموینې په موټرونو او ماشین آلاتو باندې:<br>د 1398 مالي کال د پلان له مخې په ۲۰۰ عراده وسایطو، (۸۰) ماشینې وسایلو ، ۲۵ دانې ګازی بخاریو (۲۰) دانې ګازی نغریو ، (۵۰) دانې جنراتورو ، (۲۰ ) مرکز ګرمی باندې عملی ازموینو( تجربو ) سرته رسول او د ګمارل شوی کمیټې له خوا د نورم تاییدول. | دې آزمایښتنو په پایله کې، له مالي او اقتصادي سرچینو څخه اغیزناکه ګټه پورته کړي او د دولتي لګښتونو د ډیروالي مخه نیول شوی ده. |
| 5 | د لابراتواري ازمیښت او کیفي تصدیق نامو له مارکیټ څخه مراقبت ساتنه او پلټنه | (۱) طرزالعمل ( کړنلار):<br>د ورداتی ساختمانی توکو د طرزالعمل مسوده جوړ او د ستندرد عالی شورا له خوا منل شوی دی. | د طرزالعملونو ( کړنلارو) مطابق کړنو د ساختماني توکو د کیفیت په لوړولو او د خلکو په خوندیتوب کې مرسته کړې او د عوایدو د ډیر والي سبب شوی دی. |
| 6 | | (۱) لابراتوار :<br>په ۱۳۹۸/۲/۲۴ نیټه د غالیو د لابراتوار لپاره د تجهیزاتو پیرود قرارداد له یوه ایراني شرکت | پـه هیواد کې د غالیو د توکو د آزموینی لابراتوار تاسیس او پرانستل ترڅو د افغاني غالی په معیاري ډول صادر شي او هیواد ته د خامو توکو |

| ګڼه | د (عرصه) فعالیتونو طبقه بندی | بشپړ شوی فعالیتونه | پایلې |
|---|---|---|---|
| | | سـره لاسـلیک شـو ، د قرارداد مطابق ټول و سایل دفتر ته سپارل شوي او دغه لابراتوار پرانستل شو او په کار واچول شوی دی. | اوبې کیفیته غـالیو داخلیـدو مخـه ونیسي. |
| 7 | **د مراجعینو رضایت ترلاسه کول** | فزیکی دفتر:<br>د کارونو د ښه کولو او مراجعینوته د معلوماتو د ورکولو لپاره یو دفتر پرانستل شوی دی. | مراجعینو او ګټه اخیســتونکو ته د خد ماتو وړا ندې کولو لپاره غوره اسانتیاوې رامنځته شوي دي. |
| 8 | | د مراجعینو لپاره د ثبت سیسټم ایجادول:<br>د ســـټنډرډ ملي اداري د مراجعینو د ثبت په موخه د مراجعینو د ثبت کتاب د دفتر د ښــــه راغلا ست څانګه کې ایښودل شوی دی چې مراجعین هلته ثبت کیږي او وروســـته د کارد معلومولو نه لازم اجراات تر ســره کیږي . دغه اداره د ۱۳۹۸ کال لپاره د ثبت کتاب یې کافی ګڼلی او د ډیر پرمختګ په موخه به په اینده کال کې یو منظم سیستم جوړ کړي. | د ښه راغلاست څانګې له وجه مراجعینو لپاره ډیر اسانتیاوی را منځته کړي دي ، د هغو څانګو سربیره چې د پطرولیم محصولاتو ازموینې لپاره راځي، نور مراجعین هم له دې څخه برخه من شوي د کال په جریان کې زیات شمیر اشخاصو خپلو دندو د ترسره کولو لپاره دفتر ته راجع شوي او د دوی دندې په وخت سره اجرا شوي دي |
| 9 | | (٥) د تابلوګانو لګول<br>د دفتر په دهلیزونو او باندني دیوالونو کې شعارونه او د سټنډرډ لوګو نصب کړای شوي دي او د هیواد د خپلواکۍ 100 کلیزې په مناسبت ، د دفتر بیروني دیوالونو باندې هم تابلو ګانې نصب شوي دي. | شعارونه او د سټنډرډ لوګوګانې د دفتر په دهلیزونو او بهر دېوالونو کې د لګولو له وجه مراجعینو ته خبر ورکولو په برخه ګټور تمام شوی دی. |
| 10 | | د اخلاقي منشور جوړول:<br>د یوې سالمې او مسوولیت منونکې اداري د ایجاد لپاره اړینه ده چې اخلاقي منشور ترتیب | د دې منشور په تطبیق سره په اداره کې د کار کوونکو تر منځ مثبت بدلو راغلی دی په د همغږۍ له مخې کار |

| پایلې | بشپړ شوی فعالیتونه | د (عرصه) فعالیتونو طبقه بندی | ګڼه |
|---|---|---|---|
| کوي. تر منځ یې یووالی تامین شوی دی چې په اداره کې د کارکوونکو د چلند کې نظم او ډیسپلین را منځ ته شوی دی. | او ترویج شي. په همدې موخه د ستنډرډ ملي اداري اخلاقي منشور ترتیب او د تابلو په شکل یې نصب کوی دی. سربېره پر دې ټولو کارکوونکو ته د لاس رسي وړ ګرځېدلی دی چې باید په اداره کې د نه او مراجعینو سره یې چلند د دې منشور پر بنسټ وي. او پرې نه ږدي چې د دولت او خلکو تر منځ واټن را منځ ته شي. | | |
| د اړونده چارو د اجرا په وخت کې یادو اړیکو ته رسیدګي د مراجعینو د وخت د ضایع کېدو د مخنیوي او د اسانتیا سبب ګرځېدلی دی. | د ټیلفوني سېستم پراختیا:<br><br>د ټیلفوني سېستم پراختیا شکایاتونو ته د رسیده ګی په موخه ایجاد شوی دی. د کال په اوږدو کې زیاتو اړیکو ته چې معلوماتي اړیکې وې، په وخت ورته رسیدګي شوې ده. | | 11 |
| مراجعینو او ګټو اخیستونکو ته د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې زیاتې اسانتیاوې برابرې شوې دي. | د انلاین سېستم انکشاف شکایتونو ته د رسیده ګی په موخه ایجاد شوی دی چې د اداري له ایمل، وېبپاڼې او ټولنیزو پاڼو څخه د غوښتونکو غوښتنو او شکایتونو ته کافي رسیدګي شوې ده. | | 12 |
| په کاري فضا کې د دې اداري د واحد جنډر په وسیله د ښځو د ستونزو په اړه ترسره شوې سروې په کاري چاپېریال کې د ښځو د خوندیتوب او امنیت د احساس د زیاتوالي سبب شوې ده. | ۱ ترسره شوې سروې:<br><br>د اداري د واحد جنډر په وسیله په کاري ساحه کې د ښځو د ستونزو په اړه یوه سروې ترسره شوې ده چې ۷۵ تنو په (۲۸۹) ځوابونو کې په دې اداره کې د ښځو کاري فضا مناسبه بللې ده او د یو شمېر ستونزو په اړه لکه ټرانسپورټېشن، نا کافي امتیازات او د امنیتي مسایلو په اړه یې ښودلې ده چې باید د اداري له رهبرۍ سره شریک شي. | **د ښځینه و لپاره د کاري فضا برابرول** | 13 |

| ګڼه | د (عرصه) فعالیتونو طبقه بندی | بشپړ شوی فعالیتونه | پایلې |
|---|---|---|---|
| 14 | له سیمییزو او نړیوالو سازمانونو سره د اړیکو پراختیا | د سیمییزو او نړیوالو سازمانونو په عمومي غونډو کې ګډون ( ISO – SAARC- SARSO&SMIIC): <br><br> د سټنډرډ د نړیوال سازمان (ISO) په دوه څلوېښتمه عمومي ناسته کې د رهبرۍ پلاوي ګډون، په سعودي عربستان کې د اسلامي هېوادونو لپاره د سټنډرډ او مېټرولوژۍ انسټیټوټ (SMIIC) په څوارلسمه عمومي غونډه کې د رهبرۍ پلاوي ګډون، په بنګله دیش کې د جنوبي اسیا د سیمییز سټنډرډ سازمان د تخنیکي کمېټې بورډ(SARSO) عمومي غونډه کې د رهبرۍ پلاوي ګډون، په ترکیه کې د اسلامي هېوادونو لپاره د سټنډرډ او مېټرولوژۍ انسټیټوټ (SMIIC) په شپږمه عمومي غونډه کې د رهبرۍ پلاوي ګډون، په ترکیه کې د اسلامي هېوادونو لپاره د سټنډرډ او مېټرولوژۍ انسټیټوټ (SMIIC) په اوومه عمومي غونډه کې د رهبرۍ پلاوي ګډون، په مالېزیا کې د سټنډرډ د نړیوال سازمان (ISO) عمومي ناسته کې د رهبرۍ پلاوي ګډون. | له سیمییزو او نړیوالو سازمانونو سره د اغېزمنو اړیکو ټینګښـــــت او د تخنیکي همکاریو جذب |
| 15 | | دوولسم سټنډرډونه: <br> Rice – Specification ISO 7301) <br> (د وریجو ځانګړني ) <br> ، Dired Mulberries ISO 7910 ، <br> وچ شوي توت) <br> Dired oldster specification and test Methods ISO 23394 | د ملي ســـټنډرډونو د غني کولو په موخه (۲) سـټنډرډونه د پلان مطابق پېرودل شوي دي |

| پایلې | بشپړ شوی فعالیتونه | د (عرصه) فعالیتونو طبقه بندی | ګڼه |
|---|---|---|---|
| | (وچ شـــوو سـنځلو – د ازمېيښـــت ځانګړنې او تګلارې)<br>Density –Evolution of ، biocompatibility of medical device ISO 7405<br>( غا ښونه – د طبي و سايلو د حياتي جوړ ښت ارزونه)<br>stainless steel needles ISO 9626 ،<br>(د توليد لپاره د فولادي زنګ ضد ستنو لپاره ټيوب جوړونه)<br>Packing for terminally sterilized، ISO 11607<br>( له نهايي تعقيم څخه وروسته د طبي وسـايلو بسته بندي )<br>Sterlization of health care، products ISO 11737<br>( د روغتيا سـاتنې محصـولاتو تعقيم- لومړۍ برخه )<br>Sterilization of health care ، products-part 1 ISO 11737-1<br>(د روغتيا ساتنې محصولاتې تعقيمول)<br>Stainless steel needle tubing for، manufacture ISO 9626<br>ISO-IEC _ 7816-11- 2004،<br>ISO-IEC_19785-2_2006،<br>( (له ستيل څخه د سوزنې لولو جوړولو لپاره)<br>د ستنډرډ له نړيوال سازمان ISO څخه پيرودل شوي او تخنيکي کمېټو ته په واک کې ورکړل شوي دي. | | |

| ګڼه | د (عرصه) فعالیتونو طبقه بندی | بشپړ شوی فعالیتونه | پایلې |
|---|---|---|---|
| 16 | | له درېیو هېوادونو ازبکستان، هندوستان او ترکیې سره د اړیکو ټینګښت او د تخنیکي همکاریو غوښتنه چې د سټنډرډ ملي ادارې سره یې هوکړه لیک لاس لیک کړی دی، د پلان له مخې ترسره شوی دی. رهبری پلاوي د (۱۸۹۸) کال په وري میاشت کې د ترکیې د سټنډرډ له انسټیټوټ سره ولیدل او د (د ترکیې هېواد په راتلونکې کې د افغانستان له سټنډرډ ملي ادارې سره د سټنډرډ جوړونې انسټیټوټ پراختیا، په تخنیکي برخه کې د کارکوونکو د وړتیا لوړول، د سټنډرډ ملي ادارې لابراتوارونو ته باور ورکول او د سټیفیکشن یا کیفي تصدیق پاڼو د پروسې د مراحلو په طی کولو کې همکاري، د لنډ مهاله کورسونو په جوړولو کې د SMIIC عمومي سرمنشي هر اړخیزه ژمنې او د SMIIC او په دې ماموریت کې غړي هېوادونه د یوه غوره ارتباطي پل حیثیت لري) او ژمنې یې وکړې. همدارنګه د مطابقت ارزونې سرپرست رییس او ورسره مل کس د ۱۳۹۸ کال په لړم میاشت کې د ازبکستان له سټنډرډ ادارې سره د مطابقت ارزونې هر اړخیزه متقابل شناخت په برخه کې د همکاریو د پراختیا د یو هوکړه لیک په لاسلیک کولو بحث وکړ. د دې ادارې له لوري مشخص مواد د دوه هېوادونو تر منځ درېیم کاري ګروپ شو چې د سوداګرۍ او صنعت وزارت په خپل یوه لیک کې(۵۰۵۱) د (۱۳۹۷/۱۲/۱۵) نېټه خبر ورکړ چې موضوع یې له بهرنیو چارو وزارت سره شریکه کړې ده ا د هند د سټنډرډ ادارې ته یې استولې ده. | د کارکوونکو د وړتیا لوړونې، د سټنډرډ جوړونې په برخه کې د تجربو شریکول، د مطابقت ارزونې، مټرولوژۍ، کیفي تصدیق پاڼو او د ادارې لابراتوارونو ته باور ورکولو په برخه کې د تخنیکي همکاریو زیاتوالی. |

| گڼه | د (عرصه) فعالیتونو طبقه بندی | بشپړ شوی فعالیتونه | پایلې |
| --- | --- | --- | --- |
| | | | |
| 17 | **د بودجې جوړښت** | د ۱۳۹۹ مالي کال لپاره د بودجې مســـودې ترتیب، طی مراحل او منظوري | د راتلونکي مال کال لپاره د بودجې د مسودې ترتیب د راتلونکو پلانونو د تحقق لپاره د ځیرکتیا او دقیق سنجشونو سبب شوې ده، څو د راتلونکي کال پلاني اجرات په سم ډول ترتیب شي. |

| ګڼه | د (عرصه) فعالیتونو طبقه بندی | بشپړ شوی فعالیتونه | پایلې |
|---|---|---|---|
| 18 | د ادارې معلوماتو د همغږۍ او واحد سېستم ایجادول | د بشري سرچینو د مدیریت سېستم پراختیا (MIS HR): د بشري سرچینو د مدیریت سېستم پراختیا په برخه کې (الکترونکي حکومتولي یا HR MIS) کارونه په سم ډول ترسره شوي دي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمېسیون په مرسته د ادارې د ټولو کارکوونکو بایومټریک کول بشپړ شوي، د کارکوونکو نومونه په دري او انګلیسي ژبو په ډیټابیس کې ثبت او د اداري اصلاحاتو له کمېسیون سره تطبیق او همغږي شوي دي. | د ادارې د ټولو کارکوونکو بایومټیریک کول او په ماډرن سېستم حکومتولي د خیالي کارکوونکو د له منځه وړلو او شفافیت سبب شوی دی. |
| 19 | | د ادارې په فعالیتونو پورې د اړونده معلوماتواو احصایې لپاره د سېستم پراختیا. | د ادارې په فعالیتونو پورې د اړونده معلوماتواو احصایې سېستم ایجاد شوی دی او په هغو کې په عملي ډول اړینه ډیټا شامله شوې ده. |

| ګڼه | د (عرصه) فعالیتونو طبقه بندي | بشپړ شوی فعالیتونه | پایلې |
|---|---|---|---|
| 20 | | د الکترونیکي حاضرۍ د سېستم پراختیا:<br>الکترونیکي حاضري د بشري سرچینو یو له اساسي کارونو څخه دی. د اداري د کارکوونکو په حاضرۍ کې د شفافیت په موخه الکترونکي حاضري وپېرودل شوې او په مناسب ځای کې ولګول شوې چې په عملي توګه ترې ګټه اخیستل کېږي. | په ټاکلي وخت سره د کارکوونکو حاضري، درې سېټه الکترونکي حاضري پېرودل شوې ده او په مناسب ځای کې لګول شوې دي چې کارکوونکي له په خپل وخت خپلو کارونو ته حاضرېږي. |
| 21 | **د بشري سرچینو مدیریت** | د ۱۳۹۹ کال لپاره د اداري د تشکلاتي جوړښت ترتیب او تشکیل د طرحې د کمېټې ایجاد. | په سمه توګه د پلانونو او پراختیایي پروژو تطبیق او طرحه او د ۱۳۹۹ کال تشکلاتي د جوړښت طرحه ترتیب شوې ده. |
| 22 | **د پلات جوړونې سېستم پیاوړتیا** | د سټراټژیک پلان سند:<br>د سټنډرډ ملي اداري پنځه کلن پلان( ۱۳۹۸ــ۱۴۰۲) د ITC او تخنیکي همکارانو په وسیله بشپړ شوی دی او د سټنډرډ عالي شورا په غونډه کې چې د ولسمشر د دویم مرستیال په مشرۍ جوړه شوې وه، تاید شو. | سټراټژیکو موخو ته د رسېدلو په موخه د سټنډرډ ملي اداري پنځه کلن پلان ( ۱۳۹۸ـ۱۴۰۲)ترتیب کړی او ګټې ترې اخیستل کېږي. |
| 23 | | (1) برنامه:<br>د پلان جوړونې په برخه کې د اداري د پلان او پالیسی رییس په وسیله د پلان او پالیسی (۱۱) منسوبینو ته د وړتیا لوړونې پروګرام ترتیب او عملي کړی دی. | د پلان جوړونې د برخې د کارمندانو وړتیا د پلان جوړونې د چارو د چټکیا او د کار د کیفیت سبب شوې ده. |

| پایلې | بشپړ شوی فعالیتونه | د (عرصه) فعالیتونو طبقه بندی | ګڼه |
|---|---|---|---|
| د پلان جوړونې په پراختیا کې د پرمختګ په موخه د ځوابګوی جوړښت پراختیاطرحه د پلان جوړونې په چارو کې د غوره نظم سبب ګرځېدلې ده. | د پلان جوړونې د برخې لپاره د ځوابګوی جوړښت پراختیا:<br><br>د پلان جوړونې د برخې لپاره د ځوابګوی جوړ ښت د پراختیا طرح ترتیب شوې ده او د لړم میاشتې په ۲۲ نېټه د یوې غونډې په ترڅ کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له کمېسیون سره شریکه شوه. | | 24 |

## د اجراتو تحلیل

**الف: د اجرا په حالت کې فعالیتونه**

| د پلان مطابق فعالیتونو د نه بشپړېدو دلیلونه | د پرمختګ سلنه | د فعالیتونو د تحقق د څرنګوالی راپور | ګڼه |
|---|---|---|---|
| د یادو لابراتوارونو ځیني تجهیزات او ماشــینونه پرزو ته اړتیا لري چې له هېواده بهر چمتو شـوي او په دې وجه چې د ځینو ماشــینونو عیارول له تخنیکي او فني اړخه زیات وخت غواړي او قراردادي شرکت نه دی توانېدلی چې د قرارداد سره سم کارونه مخ ته یوســي، په همدې وجه دا فعالیت نه دی بشپړ شوی. | ٪ ۵۰ | د نفتي موادو، ســـاختماني او برق لابراتوارونو د تجهیزاتو د عیـارولو د پروژې قرارداد پـه (۱۳۹۸/۰۷/۰۷) نېټه له یوه قراردادي شرکت سره لاسـلیک شـو، دغه قراردادي شـرکت د برښـنا د لابراتوار د تجهیزاتو عیارول او ترمیم بشـــپړ کړی دی او د نفتي موادو او ســـاختماني لابراتوارونو عیارول جریان لري. | ۱ |
| د سېستم او محصول د کیفي تصدیق پاڼو د وېش لپاره اړینه ده چې لومړی مفتشـــین اړینې زده کړې ترلاســـه کړي او نړیواله معتبره کیفي تصـــدیق پاڼه لکه (ERCA) ولري، څو وکولای شـــي بېلا بېلو کمپنیو، شرکتونو او یا فابریکو ته د مدیریتي سېستم په برخه کې او یا د محصول لپاره زده کړې ورکـړي، دا چـې دا ډول زده کـړې او ټرېنېنګ اوس مهال په افغانستان کې شوني نه دي، په همدې وجه دا فعالیت مخکې نه دی تللی. د ســـتنډرډ ملي اداره هڅه کوي چې ژر ټرېنېنګونـه پیـل کړي او د کیفي تصدیق پاڼو څانګه فعاله کړي. | ٪ ۲۰ | (۱)د کیفي تصدیق پاڼو واحد:<br>د کیفي تصدیق پاڼو برخې مفتشینو ته د ISO9001 او ISO17025 لومړنی زده کړې ورکړل شوې دي او د دې برخې فعالول نورو اړینو زده کړو ته هم اړتیا لیدل کیږي چې اړین چمتوالی ورته نیول شوی دی. | ۲ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳ | د ساختماني موادو د لابراتوار فعالیت:<br>د ننګرهار ولایت د ساختماني موادو د ازمېښت لابراتوار فعال او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. همدارنګه د مزار شریف او هرات ولایتونو لابراتوارونه هم فعالیت ته چمتو دي چې په نږدې وخت کې به پرانیستل شي او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي. | ٪ ۳۰ | د ځینو تخنیکي ستونزو له امله د مزارشریف او هرات ولایت لابراتوارونه په خپل وخت افتتاح نه شول.<br><br>د یادو لابراتوارونو انجنیرانو د لابراتوارونو له فعالېدو مخکې اړین ټرېننګونه نه وو لیدلي. اوس مهال انجنیرانو اړین ټریننګونه ترلاسه کړي چې لابراتوارونه به ډېر ژر په فعالیت پیل وکړي. |
| ۴ | په عدلیه وزارت کې د مترولوژۍ قانون د مراحلو طی کول، تو شیح او په ر سمي جریده کې د هغه خپرول. | ٪ ۸۵ | د مترولوژۍ قانون مسوده په رسمي توګه عدلیې وزارت استول شوې ده. شاوخوا شپږ میاشتې په بېلا بېلو غونډو کې د سټنډرډ ملي ادارې د مترولوژۍ متخصص او د عدلیې وزارت کارپوهانو په هغو باندې بحث او خبرې اترې کړي دي.<br><br>په پای کې ۱۳۹۸/۰۹/۳۰ نېټه په عدلیه وزارت کې نهایي او د راتلونکو مراحلو د طی کولو په موخه د افغانستان اسلامي جمهوري د کابینې د قوانینو کمېټې ته واستول شو. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵ | د ستنډرډ ملي اداري او د متحده عربي اماراتو د ستنډرډ او مترولوژۍ اداري تر منځ د هوکړه لیک نهایي کول | ٪ ۹۰ | د۲٤٤٥/١٦٣٦ شمېره مکتوب په لړ کې د (۲۹ / ۸/ ۱۳۹۸)نېټه د بهرنیو چارو له وزارت څخه غوښتنه وشوه، څو د ۲۰۱۹ کال د ډیسمبر میاشتې په وروستیو کې د همکاریو د هوکړه لیک یادښت لاسلیک کړي او هم د سند د لاسلیک اړوند د صلاحیت د لیک غوښتنه هم ترې شوې ده. مونږ د بهرنیو چارو وزارت د ځواب په تمه یو. باید یادونه وکړو چې بهرنیو چارو وزارت د هوکړه لیک یادښت په اماراتو کې د افغانستان سفارت ته استولی دی، څو د متخده اماراتو د مترولوژۍ او ستنډرډ ملي اداري له لوري د هوکړه لیک و خت او ځای وټاکل شي، خو تر اوسه یې ځواب نه دی راکړی. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 6 | (د سټنډرډ جوړونې، د کیفیت د تصدیق د سټنډرډ ټګلارې، د لګښتونو تثبیت، مټرولوژۍ، سټراتیژۍ، پالیسۍ، رهبرۍ، له مراجعیتو سره د چلند ډول او MIS) په برخه کې د کارکوونکو د وړتیا لوړونې لپاره د پروګرامونو جوړول.<br>۱. د نفتي موادو او اوبلن ګاز تخنیکي کمېټې شپږ تنه نارینه کارکوونکو ته د سټنډرډ جوړونې په برخه کې پروګرام ترسره شوی دی.<br>۲. د (SAARC) هېوادونو د حقوقي مټرولوژۍ د قوانینو او مقرراتو د ودې په برخه کې په ۱۳۹۸/۴/۲ نېټه (۱۹) نارینه او (۲) ښځینه کارکوونکو ته د ادارې د نه یو ورځنی ورکشاپ وړاندې شو.<br>۳. د (TBT) تر نامه لاندې په هندوستان هېواد کې یو پروګرام تر سره شو چې د ادارې (۵) تنه کارکوونکي د ۲۰۱۹ کال د نومبر میاشتې له ۱۸ تر ۲۷ نېټې پورې ورته معرفي شول.<br>۴. د ملکي خدمتونو د کمېسیون له لوري د (۱۳۹۷/۹/۱۴) نېټه د ادارې (۹) تنه نارینه او (۳) تنه ښځینه کارکوونکو ته د HRMIS تطبیق پلان یا د بشري سرچینو معلوماتي مدیریت پروګرام د یوې ورځې په جریان کې وړاندې شو.<br>۵. د ادارې یو تن کار کوونکی د ISO 9001-Quality Management system تر نامه لاندې (د کیفیت د مدیریت سېسټم) | ۴۷،۳۶٪ | د ادارې خالي بستونه چې له ګمارلو وروسته یې زده کړې کولې، له یو شمېر څخه یې ازموینه اخیستل شوې ده او وروسته له ګمارنې ورته زده کړې ورکړل شوې. مګر ۱۷ بستونه نور چې زده کړو ته اړتیا لري او شارټ لیست شوي دي، په دې دلیل چې د ملکی خدمتونو او اداري اصلاحاتو کمېسیون د ټولو شارټ لیست شوو بستونو د ازموینې پروسه په الکټرونیکي سېستم اخیستل کېږي کافي وخت ته اړتیا لري. د یادې برخې کارکوونکي نه دي ګمارل شوي. په همدې دلیل دا فعالیت نه دی بشپړ شوی. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | & ISO 22000 Food Safety Management system<br>(د خوراکي توکو د خوندیتوب د مدیریت سیستم)<br>په هندوستان هیواد کې د (۲۰۱۹/۱/۲۷ څخه تر ۲۰۱۹/۲/۸) نیټه یوولس ورځې ګډون درلود.<br>۶. د بشري سرچینو د معلوماتي مدیریت تطبیق یا HRMIS په اړه پروګرام د ملکي خدمتونو له لوري د۱۳۹۸/۱/۲۷ تر ۱۳۹۸/۱/۲۸ نیټې پورې د سټنډرډ ملي اداري ۱۸۸ نارینه او ۱۲ ښځینه کارکوونکو ته د دوه ورځو په جریان کې وړاندې شو.<br>۷. په اداره کې ۶ نارینه او ۷ نارینه کارکوونکو ته د قوانینو او مقرراتو په اړه د عامه پوهاوي یو ورځنی ورکشاپ وړاندې شو.<br>۸. د اداري ۱۷ نارینه او ۳ ښځینه کارکوونکو ته د سټنډرډ ملي اداري د کلي معلوماتو او د چلند ډول تر نامه لاندې زده کړیز ورکشاپ وړاندې شو.<br>۹. په ۱۳۹۸/۸/۴ څخه تر ۱۳۹۸/۸/۸ نیټې پورې د ملکي خدمتونو په انستیتوت کې د (ویژه مقدماتی اداری) تر نامه لاندې یو زده کړیز پروګرام ترسره شو چې د اداري (۵) نارینه کارکوونکو په کې برخه درلوده. | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 7 | د (۵۰) خالي بستونو د مراحلو طی کول او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمېسیون په همکارۍ د پوهې او وړتیا په اساس د ښځینه کارکوونکو ګمارنه چې له دې جملي څخه د (۲) ښځو په ګډون ۲۶ کسان په خالي بستونو کې وګمارل شول او ۱۶ بستونه شارټ لیست شوي دي چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون ته په رسمي توګه استول شوي دي.<br>(۲ ) زن استخدام و بتعداد (۱۶ ) بست شارت لست شده که رسماَ به کمیسیون اصلاحات اداری و خدمات ملکی ارسال گردیده است. | ۷۲ | په شـــرایطو برابر کاند یدانو نه ګډون او همدارنګه بـست ته د ښځینه کارکوونکو د شـرایطو نه پوره کول او له ښـاري موقعیت څخه د اداري د لرې واله له امله مراجعه نه ده کړې. |
| 8 | د NTA په معاش سره د اداري د ۱۳۹۸ کال له منظور شوي تشکیل بهر د (۲۰) کسانو د ګمارنې د مراحلو طی کول.<br>د (توسعې او نوښت، پرختیایي شریکانو، د خصوصي سکټور همغږی کوونکی، د پروژو طرح او تطبیق، د کیفي تصدیق پاڼو متخصص، د لابراتوار متخصص)په برخه کې (۷) سلاکاران د NTA په معاش سره له تشکیل څخه بهر د شپږو میاشتو لپاره ګمارل شوي دي. | 30 | د تمویل د سرچینو او د کافي بودجې د نه شتون له امله په NTA معاش سره د (۱۳) کسانو د ګمارلو لپاره اړین ګامونه نه دي اخیستل شوي. |

**ب: ځنډول شوي فعالیتونه**

| شماره | گزارش چگونگی تحقق فعالیت | فیصدی پیشرفت | دلایل معطل شدن فعالیت |
|---|---|---|---|
| 1 | نړیوال سـازمان ته د غړیتوب د حق اداینه ( ISO (International Organization for Standardization) د سټنډرډ نړیوال سازمان او سیمییز سازمان SMIIC ( Standards and Metrology Institute for the Islamic Countries) د اسلامي هېوادونو لپاره د سټنډرډ او مېترولوژۍ سازمان | ٪ 10 | د ISO او SMIIC نړیوالو سـازمانونو ته د غړیتوب حق په ۱۳۹۸ مالي کال کې په لاندې دلایلو ادا نه شو.<br><br>۱. د ۱۳۹۸ مالي کال په دویم ربع کې د ادایني په موخه د تعدیل پشـنهاد د مالیې وزارت د بودجې ریاست ته واستول شـو چې له شـپږ میاشـتو وروسـته د مېزان په میاشت کې یې تعدیل منظور شو.<br><br>۲. د اداینو حوالې د ۱۳۹۸ کال په تله میاشت کې د خزانو ریاست ته واستول شو، مګر وروسته له ډېر ځنډ څخه د مالي کال په وروستیو کې د سازمانونو د حساب په نمبر کې د یو شمېر ستونزو له کبله مسترد شو.وروسته له هغه چې حسابونه تصحیح شـول، حوالې د دویم ځل لپاره د خزانو ریاست ته واستول شوې. د حوالو د مراحلو په طی کولو کې د یو څخه وخت په تېرېدو سره مالي کال پای ته ورسېد او حوالې ادا نه شوې. |

**ج: نا پیل شوي فعالیتونه**

| شماره | د فعالیت سرلیک | د فعالیت د نه پیل کېدو لاملونه |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | پالیسی (1) | دا چې د کیفیت د ملي بنسټ ملي پالیسي د اداري د اړونده همکارو ادارو International Trade Center (د نړیوالې سوداګرۍ مرکز ) په مرسته بشپړه او نهایي شوې ده، نو په دې اساس د سټنډرډ جوړونې پالیسۍ ته اړتیا نه وه او اړوندې چارې په دې پالیسۍ کې تنظیم شوې دي. |
| ۲ | **د اداري مکاتبونو د الکټرونیکي سېستم ایجاد** | د سټنډرډ ملي ادارې په روان کال کې د بودجې او مالي امکاناتو د نشتون له امله او همدارنګه دا چې د ۱۳۹۸ مالي کال په بودجه کې په نظر کې نه وو نیول شوي، دا فعالیت پیل نه شو. |
| ۳ | **د تولو معلوماتو لپاره د سېستم ایجاد** | د سټنډرډ ملي ادارې په روان کال کې د بودجې او مالي امکاناتو د نشتون له امله او همدارنګه دا چې د ۱۳۹۸ مالي کال په بودجه کې په نظر کې نه وو نیول شوي، دا فعالیت پیل نه شو. |
| ۴ | **په ټولو هغو دفترونو کې چې مراجعین لري، د مراجعینو او کارمندانو د متقابلو دندو او حقوقو د اخلاقي منشور تابلوګانې.** | په ۱۳۹۸ مالي کال کې د کافي بودجې د نشتون له امله دا فعالیت بشپړ نه شو چې په ۱۳۹۹ مالي کال کې په نظر کې نیول شوی دی. |
| ۵ | **د سروې د موندنو په اساس د ځانګړي عمل پلان تدوین** | د اداري د ښځو ستونزوې چې د واحد جندر له لوري په تر سره شوې سروې کې موندل شوې دي، راپور یې په شفاهي ډول د اداري رهبرۍ ته وړاندې شوی دی.<br>د ښځو ستونزې د ټراسپورټېشن او د ناکافي امتیازاتو او امنیتي مسایلو په برخه کې وې چې دوه مېرمنې د سوپر سکېل امتیاز ته معرفي شوې او دا لړۍ روانه ده. همدارنګه د ښځو لپاره د اضافه کاري امتیاز په نظر کې نیول شوی دی. په اداره کې د ښځو د |

| | | |
|---|---|---|
| | | ازار د مخنیوي کمښه جوړه شـــوې ده او د ستنډرډ ملي اداري کاري فضا د ښځو لپاره ډېره غوره ده. در زیـات حـده پورې د اداري د ښـــځو ستونزو ته رسیدګي شوې ده چې د سروې د موندنو په اساس د ځانګړي پلان دوین ته اړتیا نه وه، په همدې دلیل دا فعالیت پیل نه شو.د ښځو ستونزو ته د رسیدګی په موخه د ځـانګړي پلان ترتیـب او چمتوالی پـه راتلونکي کال کې په نظر کې نیول شـــوی دی. |
| ۶ | **د کتلې، طول او حجم په برخه کې د مټرولوژۍ د لابراتوار د فعالیت پیل** | دا چې د مټرولوژۍ لابراتوار فعـالیتونـه د مټرولوژۍ په قانون پورې تړلي دي او یاد قانون په ۱۳۹۸/۰۹/۳۰ نېټه په عدلې وزارت کې تایید او د نورو مراحلو د طی کولو په موخـه د ا.ا جمهوري د کـابینې د قوانینو کمېټې ته د تصـویب په موخه واسـتول شـو چې د پارلمان له نهایي تایید او د ولسـمشـر له تو شیح ورو سته به په ر سمي جریده کې خپور شي او له هغه ورو سته د اجرا وړ دی چې د مټرولوژۍ لابراتوار فعالیتو نه د هغو په اســـاس تنظمیږي او په همدې دلیل دا فعالیت ځنډول شوی دی. |

## ننګونې، ستونزې او وړاندیزي طرحې

| تولیزې ستونزې | وړاندیزي طرحې |
|---|---|
| 1.د پلان شوو موخو د بشپړاوي په موخه د مالي امکاناتو نه شتون<br>د ستنډرډ ملي اداري د کال د پلان شوو فعالیتونو د پر مخ بېولو په موخه کافي بودجه ځانګړې کړې وه، مګر د | 1. د اداري د پلان شـــوو موخو د تطبیق لپاره د مالي سـرچینو تخصـیص لکه، ترمیم، د تجهیزاتو دوامداره خوندیتوب او عیارول او له دې تجهیزاتو څخه د ګټې اخیستنې لپاره د کاري پلان ترتیب. |

| | |
|---|---|
| ماليې وزارت له لوري د کافي بودجې د نشتون له امله ونه منل شوه. | |
| 2.د سېستم او محصول د کيفي تصديق پاڼو په برخه کې د وړتيا نشتون. | 2. د دې ســـتونزې د حـل لپـاره اړينـه ده چې پـه ISO17065، ISO18001، ISO2200، ISO9001، ISO14001، ISO17025 برخو کې مفتشين له هېواد څخه بهر ترينګونه ترلاسه کړي اود مفتشـــينو لپاره معتبره تصـــديق پاڼې يا Certified Auditor ورکړل شـــي، څو په قانوني توګه وکولای شي، يو شرکت، فابريکه يا يوه کڼنۍ تفتيش کړي او هغوی ته کيفي تصـديق پاڼه ورکړي.په دې برخه کې بايد د مالي وزارت زمونږ مالي ملاتړ وکړي. |
| 3.د سټنډرډ ملي اداره په ټولو بندرونو کې د ځمکې او ودانيو د نشتون له ستونزې سره مخ ده چې نه شي کولای د ساختماني موادو د کنټرول او د لابراتوارونو د ايجاد په برخه کې فعاليت وکړي. | 3. اړينه ده چې په ټولو بندرونو کې د ګمرکونو سره لږ تر لږه پنځه جريبه ځمکه سټنډرډ ملي ادارې ته ورکړل شي، څو د تورېډي موادو کيفيت چې د انسا ادارې مسوولیت دی په سه توګه کنټرول کړي چې دا کړنه د تورېډي مالونو د معاري کېدو او د کيفيت د کنټرول لامل کيږي او همدارنګه د چاپېريال ساتنې او د ژوند خونديتوب لوړوي. په دې برخه کې بايد د ماليې وزارت او ښهري او اراضي وزارت همکاري وکړي. |
| ۴.د مسلکي ظرفيتونو لپاره د معاشونو کموالی. | 4. د لابراتوارونو د ځنډ په برخه کې يو عمومي ســتونزه دا ده چې مســـلکي ظرفيتونه کم دي او که پيدا هم شـــي، معاشــونه يې کم دي چې دا کار د ســتونزو د پيښېدو لامل کيږي. نو که چېرې مسلکي کسانو ته په ځانګړې توګه د لابراتوارونو په برخه کې امتيازي معاشونه په نظر کې ونيول شي، دا ستونزې حليږي. |

**له پلان څخه بهر بشپړ شوي پلانونه**

| ګڼه | له پلان څخه د بهر بشپړ شوو پلانونو سرليک | پايلې | په پلان کې د نه شموليت دليلونه |
|---|---|---|---|
| | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | پر (۲۰۰) وسایطو، (۸۰) ماشینونو، (۲۰) ګازي بخاریو، (۲۰) کازي ډبو، (۵۰) جنراتورونو او (۲۰) مرکز ګمرمیو باندې عملي ازمېښت او د ټاکل شوي کمېسیون له لوري د هغو تاییدول. | د دولتي ادارو په وسایطو، ماشینونو او نورو تجهیزاتو باندې د کال په اوږدو کې په منځنۍ کچه په ۱۳۹۸ کال کې د ازمېښت احصایه (۵۱۰) نورمونه تعین شوو وو چې د فاریاب ولایت په غوښتنه (۱۹۵) ازمېښتونه له پان بهر ترسره شوي دي. | د فاریاب ولایت اضافي غوښتنه د ۱۳۹۸ کال په پلان کې نه وه د هغو د پرله پسې غوښتنو په پای کې ترسره شول. |
| ۲ | د (۳) سټنډرډونو پېرودل (ISO_IEC_19794-4_2011 (معلوماتي ټکنالوژي – د بایومټریک معلومات – د مخ تصویر ډیټا) ISO_IEC_19794-5_2011 (معلوماتي ټکنالوژي ـ بایومټریک – د ګوتې د تصویر ډیټا) ISO_IEC_19794-6_2011 (معلوماتي ټکنالوژي ـ بایومټریک معلومات) د ملي سټنډرډونو د غني کولو په موخه د تخنیکي کمېټې د اړتیا وړ. | د ملي سټنډرډونو د غني کولو په موخه (۳) سټنډرډونه پېرودل شوي دي. | د اړوند ډیپارټمنټ په د غوښتنې په اساس پر (۱۲) سټنډرډنو سربېره (۳) سټنډرډونه له پلان بهر پېرودل شوي دي. |
| ۳ | • **په غونډو کې ګډونه** (د حیواناتي او نباتاتي روغتیا ساتنېد یا SPS فرعي کمېټې د کاري ملي ګروپ غونډه په کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت کې، د چرګانو د غوښې د | له اړونده اداره سره د همغږۍ را منځ ته کول او د اړوندو ادارو د موضوعاتو په اړه د نظرونو تبادله کول او د اړتیا وړ تصمیمونو نیول. | غونډې او ورکشاپونه د اړونده دولتي ادارو او غیر دولتي سازمانونو له لوري د اړوندو ادارو په موضوعاتو باندې د نظر د تبادلې او د تصمیم نیولو په |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | کیفیت او روغتیا د ښار غونډه د حیواني روغتیا عمي ریاست کې، د چارو په اداره کې د ولسمشر د لوی سلاکار په دفتر کې وریجو د طرحې په اړونده غونده کې ګډون، په عامې روغتیا وزارت کې د ښونځیو د کانټین کې د غذایي خوندیتوب مقررې غونډه او داسې نورې .<br>• **له ادارې د ننه او باندې په زده کړیزو ورکشاپونو کې ګډون**( په سید جماالدین افغان کې د بشري حقوقو د سازمان له لوري د غذایي خوندیتوب په تړاو دوه ورځنی ورکشاپ چې د ادارې دوه کسانو په کې ګډون کړی و.<br>• **د ملي او ساختماني سټنډرډونو او کوډونو د ترویج او تدوین د طرزالعمل زده کړه.** ToT، ISO 9001، ISO 17021، ) Technical Regulation تخنیکي مقررات)د سوداګرۍ د نړیوال سازمان له لوري ITC په ANSA اداره کې چې (۷) کسه نارینه او (۱) ښځینه په کې ګډون کړی و.<br>• په عامې روغتیا وزارت کې د غذایي موادو د غني کولو د مقررې په اړه د عامه پوهاوي ورکشاپ | | موخه ترتیب شوي وو او د اړونده ادارو په کاري پلان کې ځای پر ځای شوي دي. په دې سبب مونږ ونه شو کولای چې یاد فعالیتونه په خپل پلان کې شامل کړو. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | چې د اداري دوه کسانو په کې برخه درلوده.<br>• په عامې روغتیا وزارت کې د WHO سازمان له لوري د غذايي موادو د خونديتوب په اړه زده کړيز ورکشاپ چې د اداري يو نارينه کس په کې برخه درلوده.<br>• په انسا اداره کې د سوداګرۍ د نړيوال سازمان له لوري د ISO 17025 په اړه زده کړيز ورکشاپ چې د اداري (۱) ښځينه او (۶) نارينه کسانو په کې برخه درلوده. | | |

## د ۱۳۹۹ مالي کال لپاره پلان شوي تولیز پروګرامونه

| ګڼه | د ۱۳۹۹ مالي کال لپاره د پلان شوو فعالیتونو او پروګرامونو سرلیک |
|---|---|
| ۱ | د ۶۰ ستنډرډونو تدوین، ترویج او تطبیق |
| ۲ | د حیرتانو، هرات او ننګرهار په بندرونو کې د ساختماني موادو د ازمېښت د تطبیق پیل. |
| ۳ | د تدوین شوو ستنډرډونو په برخه کې د ۱۰ زده کړيزو پروګرامونو تدیوین |
| ۴ | د کتلې، طول او حجم په برخه کې د مېټرولوژۍ د لابراتوار د فعالیت پیل |
| ۵ | د مېټرولوژۍ لابرتوار تدارک او چمتووالی |
| ۶ | د مرکزي لابراتوارونو ( Accreditation) باور |
| ۷ | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د ازادې سیالۍ له لوري د (۶۰) بستونو ګمارل |
| ۸ | د اداري د اسنادو د خوندیتوب په موخه د یوه دفتر (ارشیف) ایجاد |

| | |
|---|---|
| ۹ | د اداري مکاتبونو لپاره د الکټرونیکي سېسټم ایجاد |
| ۱۰ | د ټولو معلوماتو لپاره د یوه سېسټم ایجاد |
| ۱۱ | د مټرولوژي لابراتوار په برخه کې د فیس د ټاکلو د طرزالعمل طرح او تطبیق |

# ضمایم

## ***ضمیمهٔ شماره (۱) : عواید سال مالی۱۳۹۸ ( به افغانی)***

| شماره | منابع عایداتی | مبلغ عواید پیش بینی شده به افغانی | عواید بدست آمده به افغانی | فیصدی ازدیاد/کاهش عواید | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | ازدیاد | کاهش |
| ۱ | عواید از مدرک حق التست مواد نفتی و ساختمانی در مرکز | ۸۰۰۰۰۰۰ | ۵۱۲۷۸۵۰ | | ٪ ۶۴,۰۹۸ |
| ۲ | فروش کود های ساختمانی در مرکز | ندارد | ۲۲۰۰۰ | ٪ ۱۰۰ | |
| ۳ | عواید از مدرک جریام در مرکز | ندارد | ندارد | ندارد | ندارد |
| ۴ | عواید از مدرک آزمایش مواد نفتی | ندارد | ۱۷۸۵۳۸۵۹۲<br>یکصدو هفتادو هشت میلیون و پنجصدو سی و هشت هزارو پنجصدو نودو دو. | ٪ ۱۰۰ | |
| ۵ | جرایم در شش بندر الی حصول راپورهای عایداتی شان | نداریم | ۸۵۹۹۶۴۴<br>هشت ملیون و پنجصدو نودو نو هزارو شش صدو چهل و چهار | ٪ ۱۰۰ | |
| **مجموع عواید به افغانی** | | | ۱۹۲.۲۸۸.۰۸۶<br>یکصدو نودو دو ملیون و دوصدو هشتادو هشت هزارو هشتادو شش | | |

## ***ضمیمه شماره (۲)؛ بودجه عادی و انکشافی سال مالی ۱۳۹۸***

| مجموع بودجه منظور شده سال مالی ۱۳۹۸ | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **مجموع** | بودجه عادی ( به عدد) | بودجه عادی ( به کلمات) | بودجه انکشافی (به عدد) | بودجه انکشافی (به کلمات) |
| | ۹۰۲۳۵۸۵۰<br>۴۰۰۰۰۰۰ ( چهار میلیون) افزودی وسط سال مالی ۱۳۹۸ | نود و چهار میلیون و دو صد و سی و پنج هزار و هشتصد و پنجاه افغانی | ۳۶۰۵۸۰۰۰ | سی و شش ملیون و پنجاو هشت هزار افغانی |

| مصرف بودجه به اساس سال مالی به مبلغ و فیصد | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **مصرف بودجه** | مصرف بودجه عادی | | مصرف بودجه انکشافی | | |
| | به مبلغ | به فیصد | به مبلغ | به فیصد | |
| **به رقم** | ۸۳۱۱۸۳۷۳ | % ۸۸,۲۰ | ۳۳۱۹٤۰۷۲ | % ۹۲,۰٦ | |
| **به کلمات** | هشتادو سه ملیون و یک لکو هشت ده هزارو سه صدو هفتادو سه | هشتادو هشت عشاریه بیست فیصد | سی و سی ملیون و یک لکو نود چهار هزار و هفتادو دو | | |

## ضمیمه شماره (۳)؛ تشکیل وزارت / اداره:

| | تعداد معینیت ها | تعداد ریاست های مرکزی بست ۱و ۲ | تعداد مشاوریت ها | تعداد نمایندگی های ولایتی | تعداد نمایندگی های خارجی | تعداد تصدی ها | تعداد شرکت های مختلط | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تشکیل سال ۱۳۹۷ | ۲ | ۶ | ۱ | ۷ | | | | |
| تشکیل سال ۱۳۹۸ | ۲ | ۶ | ۱ | ۸ | | | | |

## بخش کارکنان مرکزی

| تشکیل منظور شده ۱۳۹۸ | مامورین و استادان | | اجیران | | نظامیان | | مجموع | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اصل تشکیل | ۲۳۱ | | ۶۹ | | | | ۳۰۰ | |
| موجود | مرد | زن | مرد | زن | مرد | زن | مرد | زن |
| | ۱۵۸ | ۱۱ | ۶۴ | | | | ۲۲۲ | ۱۱ |


| | کارکنان مرکزی | | | | | | مجموع | کارکنان ولایتی | | | | | | مجموع | کارکنان نمایندگی های خارجی | | | | | | مجموع | کارکنان شامل رتب و معاش | | | | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مامور/ استاد | | اجیر | | نظامی | | | مامور | | احیر | | نظامی | | | مامور | | اجیر | | نظامی | | | مرکز | | ولایات | | |
| اصل تشکیل | ۱۷۱ | | ۵۵ | | | | ۲۲٦ | ۶۰ | | ۱۴ | | | | ۷٤ | | | | | | | | ۲۲۳ | | ۷۴ | | ۲۹۷ |
| موجود | مامور | | اجیر | | نظامی | | | مامور | | اجیر | | نظامی | | | مامور | | اجیر | | نظامی | | | مرکز | | ولایات | | |
| | مرد | زن | مرد | زن | مرد | زن | مجموع | مرد | زن | مرد | زن | مرد | زن | مجموع | مرد | زن | مرد | زن | مرد | زن | مجموع | مرد | زن | مرد | زن | مجموع |
| | ۱۲۱ | ۱۱ | ٥٤ | | | | ۱۸٦ | ۳۷ | | ۱۰ | | | | ٤۷ | | | | | | | | ۱۷۲ | ۱۱ | ٤۷ | | ۲۳۰ |

## بخش کارکنان ولایتی:

| موقعیت | تعداد کارکنان | | | | | | مجموع | موقعیت | تعداد کارکنان | | | | | | مجموع | موقعیت | تعداد کارکنان | | | | | | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مامور | | اجیر | | نظامیان | | | | مامور | | اجیر | | نظامیان | | | | مامور | | اجیر | | نظامیان | | |
| | مرد | زن | مرد | زن | مرد | زن | | | مرد | زن | مرد | زن | مرد | زن | | | مرد | زن | مرد | زن | مرد | زن | |
| کابل | | | | | | | | بامیان | | | | | | | | میدان وردک | | | | | | | |
| بلخ | ۹ | | ۱ | | | | ۱۰ | تخار | | | | | | | | پکتیا | | | | | | | |
| کندهار | | | | | | | | جوزجان | | | | | | | | پنجشیر | | | | | | | |
| هرات | ۸ | | ۳ | | | | ۱۱ | کاپیسا | | | | | | | | سرپل | | | | | | | |
| ننگرهار | ۸ | | ۳ | | | | ۱۱ | پکتیکا | | | | | | | | بادغیس | | | | | | | |
| کندز | ۱ | | | | | | ۱ | خوست | | | | | | | | ارزگان | | | | | | | |
| بغلان | | | | | | | | کنر | | | | | | | | زابل | | | | | | | |
| بدخشان | | | | | | | | نیمروز | ۴ | | ۲ | | | | ۶ | دایکندی | | | | | | | |
| لوگر | | | | | | | | هلمند | | | | | | | | فاریاب | ۴ | | ۱ | | | | ۵ |
| غزنی | | | | | | | | فراه | ۳ | | | | | | ۳ | نورستان | | | | | | | |
| پروان | | | | | | | | سمنگان | | | | | | | | | | | | | | | |
| لغمان | | | | | | | | غور | | | | | | | | | | | | | | | |

**مجموع کل ولایات**

| مامور | | اجیر | | نظامی | | مجموع کل | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مرد | زن | مرد | زن | مرد | زن | زنان | |
| ۳۷ | | ۱۰ | | | | مردان | ۴۷ |


چارت بودجه سال مالی 1398 اداره ملی ستندرد (انسا)
120,000,000.00
100,000,000.00
80,000,000.00
60,000,000.00
40,000,000.00
20,000,000.00
-
94,235,850.00
88,424,912.00
36,056,000.00
32,912,072.00
109,317,052.00
100%
93.83%
100%
91%
100%
اصل بودجه منظور شده عادی
بودجه بمصرف رسیده عادی
اصل بودجه منظور شده انکشافی
بودجه بمصرف رسیده انکشافی
جمله عواید بدست آمده
Series1 94,235,850.00 88,424,912.00 36,056,000.00 32,912,072.00 109,317,052.00
Series2 100% 93.83% 100% 91% 100%
Series1
Series2